# Impact of Romanticism on Poetry of Major Younas Khalil

Habib Ullah Habib [1], Sheer Zaman Seemab [2]

**Abstract**: Major Younas Khalil, a modern poet of 20th century, has a unique accent and diction in his verses. He has folded diverse themes such as national unity, freedom, honour, autonomy, prosperity, liberty, velour, aesthetics and reverence in the folds of his poetry. He has also highlighted the disgraceful acts like gibe, cover dice, strains, mysteries, and all the negative tokens of the society. He has charged the youth with great human spirits like bravery, love, divinity and mysticism simple and clear cut wording. Above all, he is an intellectual rebel and a bold thinker having rarity of thought, imagination, thoroughness of sight and mental liberty. These qualities have empowered both his art and thought with colours and fragrance. So, his speaking sculptures and paintings arouse eternal joy, charm and pleasure in the readers' mind. And that is the touchstone of romanticism. These tactics bring creation, ecstasy, sensation and fits him in the queue of great romantics. The following article is the cream of his poetic effort, studied in the frame of romanticism and exposed to modern research.

مېجر يونس خليل د پښتو ژبې او ادب د شلمې صدۍ، جديد دور د منفردې لهجې او ځانګړي انداز او اسلوب شاعر دے ـ د هغه په شاعرۍ کښې فکري بغاوت او بې باکي د خيال نُدرت او ازادي د تخيل باريک بيني او افريني د خوشبو او رنګونو نڅاګري د لفظونو سنګ تراشي او مصوري د فطرتي مناظرو دلفرېبي د سرمدي کېفونو لذت د وجداني طلسماتو کېفيت د جديد تراکيبو اختراعيت او د سپېځلو جذباتو او احساساتو رنګيني څرګنده لېدے شي، کوم چې د رومانيت/ رومانويت او روماني شاعرۍ خاصه ګڼلے شي ـ ولې د دې هر څه باوجود د هغه د عسکري جذبې نه د وينو د دارو په ځاے د شبمني رنګونو پشم راوربړي او خپلې تصوراتي دنيا کښې داسې ورک او مدهوشه وي، که د وطن ناوي ته کچه او پيکه دے نو د زړۀ زخمونه او پرهرونه د خاموشۍ په کفن کښې د تنهائۍ په تار او ستن د ګنډلو هڅه کوي ـ هغه شاعر دے، فنکار دے، مصور دے او د لفظونو او معنو په جوړښت او ښښت پوهه دے ـ د هغه په فن کښې ايهام هم شته او ابهام هم، چې د پوره سوچ او فکر نه پس لوستونکے د لفظياتو او معنوياتو په

[1]Pashto Academy, University of Peshawar, Pakistan
[2]Pashto Academy, University of Peshawar, Pakistan

ژور درياب داسې ورګډوي چې د وتلو لاره ترې ورکه وي ـ دا محض مبالغه نۀ ده بلکې په دې اړه پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم ليکي !!!

> د رومان شهزاده، د حسن پرستار، د پاکې مينې علمبردار، شفقي تخيل خاوند، د شبنمي نظر فنکار، د الفاظو مصور او خوږ ژبانه شاعر ـــــ د نوې لب و لهجې د دغه شاعر فن د رنګينۍ او دلکشۍ سره سره معنیٰ خېز هم دے او مقصدي هم ـ د هغه د الفاظو نه رنګونه څاڅي ـ خوشبو د هغه په کلام کښې رقصونه کوي ـ هغه د الفاظو په انتخاب د الفاظو په ترړون او تقديم و تاخير کښې ډېر زيات مهارت لري ـ هغه لکه د يو ماهرِ جوهري د ملغلرو د هارونو په پېوستون ډېر ښۀ پوهېږي ـ د هغه تخيل رنګين دے ځکه د هغه مضامين دلنشين دي. [1, p266]

رومانيت/ رومانويت د پښتو جديد شاعرۍ يو اهم عنصر دے، دلته د موضوع د راسپړدلو نه وړاندې بايد د رومانيت/ رومانويت او روماني شاعرۍ په اړه به يو څو کرښې تورول بې ځاے نۀ وي، تر کومې پورې چې د رومانيت يا رومانويت د لفظي توري تعلق دے نو ``رومانيت/ رومانويت" د رومان نه، رومان د ``رومانس" نه او ``رومانس" د رومن ژبو نه مشتق دے ـ چې هم د دغې متعلقه ژبو کښې د يوې ژبې د قيصو، افسانو، ناولونو او نظمونو د خيالي او تصوراتي ژوند و ژواک او د مبالغه ارائي، تخيل پرستي او رنګ اميزۍ پورې اړه لري ـ په عربۍ ژبه کښې ``رومان" د محيرالعقل جذباتي ناولونو او افسانو د پاره مستعمل دے چې پکښې مخض د ټولني د خيالي او حېرانوونکي انځورونو د پېش کولو کوشش شوے وي ـ په فارسۍ ژبه کښې ئې معنیٰ ناول، افسانه يا قيصه ده په اردو او پښتو کښې هم د عشق و محبت د قيصو د پاره پکارولے شي ـ ولې د وخت تېرېدو سره ``رومان" يوه اصطلاح جوړه شوه چې په نتيجه کښې ترې ``رومانيت" جوړ کړے شو او د دې سره تړلي تصورات او افکار د وخت په ادبياتو ژور اثرات مرتب کړۀ او په باقاعده توګه ئې د يو تحريک شکل اختيار کړو ـ په دې اړه ډاکټر محمد حسن په خپل کتاب ``اردو ادب ميں رومانوی تحريک" کښې ليکي!!!

> رومان کا لفظ رومانس سے نکلا ہے اور رومانس زبانوں میں اس قسم کی کہانیوں پر اس کا اطلاق ہوتا تھا جو انتہائی آراستہ اور پر شکوہ پس منظر کے ساتھ عشق و محبت کی ایسی داستانیں سناتی تھیں جو عام طور پر دور وسطی کے جنگجو اور خطر پسند نوجوانوں کے مہمات سے متعلق ہوتی تھیں اور اس طرح اس لفظ سے تین خاص مفہوم وابستہ ہو گئے۔
>
> - عشق و محبت سے متعلق تمام چیزوں کو رومانوی کہا جانے لگا۔
> - غیر معمولی آراستگی، شان و شکوہ، آرائش، فروانی او محاکاتی تفصیل پسندی کو رومانوی کہنے لگے اور
> - عہد وسطی سے وابستہ تمام چیزوں سے لگاو اور قدامت پسندی اور ماضی پرستی کو رومانوی کا لقب دیا گیا۔
>
> ادبیات کے سلسلے میں سب سے پہلے ۱۷۸۱ میں وارٹن اور ہرڈ نے یہ لفظ استعمال کیا۔ اس کے بعد گوئٹے اور شلر نے ۱۸۰۲ میں ادبیات کے سلسلے میں اس کا اطلاق کرنا شروع کیا لیکن شیگل اور مادام ڈی اسٹائل

نے اسے ایک اسطلاح کی شکل میں رائج کیا۔اس طرح یہ لفظ جو پہلے زبان کا نام تھا۔اس کے بعد اس زبان کے مخصوص ادبیات اور داستانوں کا لقب بنا پھر ادب میں ماورائیت، آراستگی، عہد وسطی کی قدروں کی نمائندگی کرنے لگا اور آہستہ آہستہ ادب کے ایک مخصوص مزاج کا مظہر بن گیا۔[p13-14,2]

ډاکټر محمد خان اشرف په خپل کتاب ``اردو تنقید کا رومانوي دبستان" کښې د ``رومانس" لفظ د ادب د یو صنف په حېث متعارف کړے دے او د دې لفظ د مزید توضیح او تشریح په لړ کښې لیکي !!!

رومانس جیسا کہ باب اول میں ذکر کیا جاچکا ہے لفظ رومن سے مشتق ہے جس کے معنی ہیں رومی یا روم سے تعلق رکھنے والے اول اول یہ لفظ ان زبانوں کے لئے استعمال کیا جاتا تھا جو لاطینی سے مختلف تھیں لیکن اس سے مشتق تھیں۔اس کے جدید تسلسل کی صورتیں تھیں۔ان میں اطالوی، رومانسین، فرانسیسی، ہسپانوی، سارڈینی وغیرہ اور ان کی صوبائی بولیاں شامل ہیں...رومانس اس صنف ادب کا نام بھی جو فرانس میں وسطی دور (1130-1150ء) میں شروع ہوئی اور وہاں سے دوسری زبانوں میں پھیلی، یہ بنیادی طور پر افسانوی ادب کی عوامی صورت تھی۔اس کی خصوصیات میں تحیر، مبالغہ، پر اسراریت، دوراز کار واقعات اور ناقابل یقین قسم کی عینیت پسندی شامل تھی۔[p104-106,3]

د برني اوړدو اقتباساتو نه دا خبره په ډاګه شوه چې ``رومان" لفظ د ``رومانس" نه وتے دے او ``رومانس" د ``اطالوي" یا ``رومي" ژبو سره سره د یو صنف په حېث هم موجود وُ چې د عشق و محبت، ولوله انګیز، نا زیبا، فحش او عریاني قسم داستانونو، قیصو او افسانو د پاره پکارولے شو ـ چې ورستو ترې د وخت تېرېدو سره سره رومانیت اصطلاح جوړه شوه ـ ولې هر کله چې د رومانیت (Romanticism) اصطلاح مشرقي ژبو ته راغله نو مشرقي تهذیب و ثقافت دغه مذکوره اصطلاح د حیاه او عزت له وجې قبوله نهٔ کړه او په دې کښې ئې د ``واو" اضافت نه پس ``رومانیت" په ``رومانویت" بدل کړو ـ حالانکې رومانیت او رومانویت د یو (Romanticism) متبادل توري دي چې د ``رومان" او ``رومانس" نه مشتق دي او د هغه ټول تحریک د پاره مؤجب وګرځولے شو کوم چې د ``کلاسیکیت" په ضد د ``انقلاب روس" په شکل کښې سر پورته کړے وُ ـ په دې اړه ډاکټر محمد خان اشرف لیکي!!!

اردو میں لفظ رومان "انگریزی لفظ رومانس" کی Romance مختصر ہے، ابتداء میں یہ لفظ زیادہ تر منفی مفہوم میں عشق و محبت کی ناپسندیدہ اور غیر معیاری کہانیوں کے لئے استعمال ہوتا تھا، انگریزی میں اس کے ساتھ ساتھ یہ ہمت و شجاعت اور اسرار و خوف پر مشتمل داستانوں اور کہانیوں کے لئے مستعمل تھا، شاید یہی وجہ ہے کہ اردو کی بیشتر ثقہ لغات اس لفظ کے بارے میں خاموش ہیں۔[p20-21,3]

د دې حوالې او اقتباس نه داسې لګي چې په دغه دور کښې دا لفظ ``رومانیت" (Romanticism) ډېر زیات د منفي، ناوړه او لغړ قسم تصویري ادب د پاره پکارولے شو، چې د مهذب لیکوالو

د پاره ئې پکارونه غېر مناسب وه۔ هم دغسې دوي يو بل ځاے د ډاکټر محمد حسن په حواله ليکي، اګر چې دغه حواله ماته د هغوي په کتاب کښې چرته هم په نظر رانغله خو دلته کښې د محمد خان اشرف په وساطت سره رانقل کولے شي۔ دوي ليکي!!!

> اردو میں رومانی لفظاً اکثر عشق ومحبت کے سلسلے میں استعمال ہوتا ہے اور جب کبھی اس تحریک کی طرف اشارہ کرتا مقصود ہو جو یورپ میں رومانٹک یا رومانٹیسیزم کے نام سے معروف ہوئی تو اندیشہ رہتا ہے کہ اردو میں اس سے عشقیہ مراد نہیں لی جائے اس لئے وکا اضافہ روا رکھا گیا ہے۔ شاید اس طرح زیادہ وضاحت اور صراحت پیدا ہو.[3, p23-24]

تر دې دمه د رومانيت/ رومانويت يو شمېر تعريفونه شوي دي چې اکثر د يو بل تضاد او التا دي، په دې اړه ايف اے لو کاس په خپل کتاب Decline and fall of Roman Empire کښې د رومانيت يولس زره درې سوه او شپږ نوي تعريفونو تذکره کړې ده۔ [4, p99] خو کوم تعريف چې د فضلياتو مؤلف فضل مير خټک کړے دے هغه ډېر زيات زړۀ ته پرېوځي۔

> رومانيت او کلاسيکيت دوه چاپياني دي چې مونږ پرې د ادب خزانې پرانزو، د ادب په هره فن پاره کښې څلور ځيزونه وي، تخيل، جذبات، عقل و خرد، کله چې اولنې دوه په اخري دوؤ زورور شي نو دې ته رومانيت وئيلے شي، کله چې چې دا رجحان مخالف شي، بيا کلاسيکيت دے۔[5, p225]

په لنډه توګه رومانيت/ رومانويت يوه اصطلاح ده چې د ``انقلاب فرانس" نه پس ئې په ادب کښې د کلاسيکيت خلاف اواز پورته کړو او باقاعده د يو تحريک شکل ئې اختيار کړو۔ اردو او پښتو ادب باندې د دې اثرات په يو شوي دي، په اردو کښې د دې مؤجب سرسيد احمد خان د علي ګړ تحريک او په پښتو کښې ئې اسلاميه کالج پېښور ګڼلے شي۔ په دې اړه عبدالله جان عابد ليکي!!!

> جدید پشتو ادب میں دوسرا اہم رجحان فلسفیانہ مضامین کے ساتھ ساتھ رومانیت کا اظہار ہے۔ رومانیت کی تحریک جس طرح انقلاب فرانس کے برطانیہ میں شروع ہوئی اور پاک وہند میں اردو شعراء نے انگریزی سے براہ راست اس کا اثر قبول کیا، اسی طرح پشتو میں اس کا حلقہ اثر بڑھانے میں اسلامیہ کالج پشاور کا کردار نمایاں رہا ہے۔[6, p18

بيا هم د دې دومره تعريفاتو، تشريحاتو او توضيحاتو باوجود په رومانيت يا رومانويت باندې سر خلاصېدل ممکن نۀ دي۔ ولې په دې لړ کښې ځينې پوهانو په رومانيت يا رومانويت باندې د پوهېدو د پاره څه اجزائے ترکيبي وړاندې کړي دي۔ ګويا چې په يوه ادبي فنپاره کښې دغه مخصوص توکي شامل وي نو دا به د رومانيت يا رومانويت په زومره کښې راځي۔ ډاکټر محمد خان اشرف د روماني شاعرئ او په روماني شاعرانو کښې درې اهم توکي په ګوته کړي دي، تخليقي تخيل، نامياتي فطرت او علامتي شاعري[3, p66] ۔ دغسې ډاکټر سيد امتياز علي عابد

په ``اصول انتقادِ ادبیات" کښې جذباتیت، د فطري مناظرو سره دلچسپي، ماضي سره لګاؤ، تصوف، انفرادیت پسندي، د کلاسیکي رجحاناتو نه بغاوت، د کلیوال ژوند سره مینه، د تخیل مکلمه ازادي، د انساني حقوقو حصول، د ځناورو په ژوند کښې دلچسپي او په ناول نګارۍ کښې جذبات نګاري د رومانیت د پاره اهم توکي ګرځولي دي [7, p180]۔

بهرحال د تخیل لوړوالے، سپېځلي جذبات، انفرادیت پسندي، فطرت نګاري، ماضي پرستي، وطن پرستي، انسان دوستي، علامت نګاري او د زړو رجحاناتو نه بغاوت د رومانیت/ رومانویت اهم توکي دي ۔ په دې تناظر کښې که د مېجر یونس خلیل فکر و فن ته وکتلے شي نو بې د رومانیت او رومانویت نه پکښې بل څه په نظر نۀ راځي او د هغه ټوله شاعري د رومانویت په خوږو ککړه ده ۔ حالانکې ځینې پوهان د هغوي د دې عنصر نه منکر دي او نۀ خو دوي په روماني شاعرانو په قطار کښې ودروي او نۀ د مقصدي، ولې که په ژور نظر د دوي د شاعرۍ مطالعه وکړے شي نو دغه دواړه توکي د هغوي د شاعرۍ خاصه ده ۔ لکه ډاکټر اقبال نسیم په خپل کتاب ``دردانې" کښې د محمد اقبال اقبال یوه حواله راخستې ده ۔

> خلیل صاحب د وطن پرستي په رنګ رنګین دے نۀ پرې مونږ د روماټیسیزم لېبل لګولے شو او نۀ ورته د ترقي پسند نوم ورکولے شو خو کوم نوم ورته ورکړو؟ نو دا اندازه د څاڅکي نه په اسانه لګېدے شي چې خلیل صاحب د دې ملک یو وفادار غړے دے او په هر حال کښې د دې ملک رشته نۀ پرېکوي ۔[1, p305]

ډېره د تعجب وړ خبره ده، ولې چې وطن پرستي د رومانوي شاعرۍ یو اهم توکے دے او لکه څنګه چې وړاندې ووئیلے شو چې د یونس خلیل په شاعرۍ کښې د دغه دواړو توکي (رومانیت او مقصدیت) په شدت سره ځاے شوي دي چې په خپل ځاے به ئې یادونه وه شي ۔ تر کومې پورې چې د وطن پرستۍ خبره ده نو که د وطن سره مینه کول د روماني شاعرۍ په زومره کښې نۀ راځي نو بیا د خوشحال بابا نه تر د حمید ماشوخېل او غني خان، سېد رسول رسا او فضل حق شېدا پورې ټول د دغه قطار نه به ویستلے شي ولې چې دوي ټولو دغه ګناه ښۀ ښکاره کړې ده ۔ او که چرې د وطن سره مینه د یو مخصوص جغرافیې پورې محدود وي نو بیا خبره کېدے شي!!! ۔ د وطن سره مینه کول د مېجر یونس خلیل د شاعرۍ یو اهم جز دے او دغه جز د رومانویت خاصه ده ۔ دوي په دې لړ کښې په عملي توګه د یو شمېر سختو، کړمو او تکالیفو سره مخ شوے دے ولې همت او حوصله ئې تانده ساتلې ده ۔ بله د محمد اقبال اقبال خبره هم نیمګړې ده او دا ئې په لوستونکو پرېښې ده، باید چې د یو نقاد په حېث هغوي دې له څه نوم ضرور ورکړے وے چې یونس خلیل شاعري په کومه زومره کښې راځي ۔ دا هم د یادونې وړ ده چې مشرقي تهذیب و تمدن عموماً او پښتني تهذیب و ثقافت خصوصاً د بهر نه په را وړو صنفونو او روایاتونو باندې خپل رنګ او اهنګ خېژولے دے ۔ دغه کار ئې د رومانویت سره هم کړے دے، که یو خوا دا تورے ``رومانیت" په اوله کښې په منفي او ناوړه معنو کښې مستعمل

وۀ نو دوي ورله د ``واو" په اضافت ``رومانويت" سره معنیٰ کښې پراختيا او وسيعتيا پېدا کړه نو بل خوا ئې د مغربي رومانيت رنګونو نه ځان بچ ساتلے دے او په دې ئې د مشرقي رومانويت رنګ خېژولے دے۔ په دې اړه د ډاکټر حنيف خليل دا تجزيه د يونس خليل د شاعرئ په لړ کښې ډېره په ځاے ده چې!!!

> د مېجر يونس خليل شاعري که په غور وه کتلے شي نو د مغربي رومانويت نه پاکه ښکاري ۔ ځکه چې هغه خپل خيالات او احساسات د استعارو او کنايو په شکل کښې بيانوي ۔ خپل سوچ او فکر د يوې مخصوصې پردې لاندې څرګندوي، په شعر کښې ئې هېڅ قسمه بې حيائي او بې پردګي نۀ وي ـ ـ ـ ـ ـ ـ هغه د رومانويت په مشرقي اقدارو کلک ولاړ دے ۔ د هر قسمه بې باکئ نه ځان په ډډه ساتي او په يوه موقع هم د حيا او پردې لمن نۀ پرېږدي ۔[8, p200]

عموماً د رومانوي شاعرانو رجحان د غزل په نسبت نظم پله زيات وي او دغه اثر په مذکوره شاعر هم شوے دے ولې دوي د نظم سره سره د غزل لمن هم کلکه نيولې ده ۔ دوي تر دې دمه درې شعري مجموعې چاپ شوي دي، ``لاله زار"، ``څاڅکي" او ``پس له څاڅکو لاله زار"۔ ولې زما د نيمګړې مطالعې تر مخه د هغوي ښه شاعري په ``څاڅکي" کښې چاپ ده، حالانکې د نورو مجموعو شاعري ئې هم ښه ده ولې په ``څاڅکي" کښې ډېره ښه ده ۔ د رومانيت او رومانويت د مذکوره اجزاؤ په تناظر کښې د مېجر يونس خليل شاعري نوره هم رابر څېره کولے شي او د رومانيت/ رومانويت او روماني شاعرئ علمبردار ثابتولے شي ۔

## 1 نامياتي فطرت

اګر چې ``فطرت نګاري" په يورپ کښې په باقاعده توګه د رومانويت غونډې يو تحريک تېر شوے دے، ولې د دغه فطرت نګارئ يو جز فطرت پرستي او منظر کشي يا منظر نګاري هم ده ۔ د قدرتي او فطرتي مناظرو سره مينه او دلچسپي لرل د رومانويت يو اهم جز دے او د رومانوي شاعرانو د خوښې او طبع موضوع ده ۔ د ونو، بوټو، ولو، چينو، د ګودرونو، د غرونو، ځنګلونو، سيندونو، ابشارونو، د ګل او بلبل، د خزان او بهار الغرض د موسمياتي تغير او کائناتي ښکلاوي انځورګري د فطرت پرستئ خاصه ده ۔ بيا دغه کائناتي، قدرتي او فطرتي مناظرو ته د لفظونو په ذريعه تجسيم ورکول د منظر کشئ يا محاکات نګارئ په زومره کښې راځي ۔ په دې لړ کښې د مېجر يونس خليل شاعري د فطرت پرستئ امېزه ده هغه په ډېر ښکلي او زړۀ راښکون انداز او اسلوب کښې د فطرتي مناظرو منظر کشي کړې ده ۔ په دې لړ کښې ډاکټر اقبال نسيم ليکي!!!

> فطرت نګاري، منظر کشي او محاکات نګاري د الفاظو مصوري ده ۔ د الفاظو په ذريعه يو منظر يا يوه نقشه په داسې انداز کښې راښکل چې اورېدونکے يا لوستونکے داسې محسوس کړي چې ګني دغه منظر د هغه په وړاندې ګرځي را

ګرځي نو دا بيا د ښکلي شاعرئ يوه زبردسته خوبي ده ـ مېجر صاحب په دغه فن کښې يقيناً مهارت لري ـ د شمېر په يو څو ټکو کښې کښې ښکلي منظرونه راښکل د هغه د کلام يو جوت خصوصيت دے ـ کله کله خو هغه يو منظر په داسې الفاظو کښې راکاږي چې منظر مجسم کړي ـ په داسې کولو دغه منظر ښئۀ واضح او دلچسپ شي ـ[1, p289]

"مازيګرے" د دوي ډېر ښکلے او زړۀ راښکونکے معرئ نظم دے چې په ``لاله زار" کښې چاپ شوے دے، دا نظم د فطرت پرستئ، منظر نګارئ او منظر کشئ يوه سپېځلي نمونه ده ـ په دې نظم کښې شاعر په ډېره استکارئ او فنکارئ د دنيا د غم نه لري يوه ځانله دنيا جوړوي چې پکښې يو خوا د ګلونو ورمې د هوا سره جنګ او لوبې کوي نو بل خوا پکښې نرے نرے ابشار داسې په مزه مزه رابهېږي لکه چې مطرب په لاس کښې ``بربط" (د موسيقئ اله) نيولے وي او زړۀ راښکونکے ساز غږوي ـ د دې سره سره د ګلونو نڅا او ګډا، د نښترو بېخوده رقص او ټالئ، د مرغو چغار، او د شفقي نغمې لاله زار د بنده وجدان او احساس يو داسې خيالي جنت ته بوځي چې ورته د خپل وجود احساس هم نۀ کېږي ـ لکه چې وائي!!!

د دنيا د غم نه لري د دې غرۀ په شنۀ لمن کښې
د خورو ګلو ورمې دي د هوا سره لوبېږي
دا ورکوټے شان ابشار دے که بربط مطرب نيولے
او ښائسته رنګين ګلونه نازنې په ګډا دي
دا ابشار د ټال په ټال ئې د بېخوده رقص ټالئ دي
او د غرۀ د سر د پاسه د نښتر د ونو بڼ کښې
د ښائسته مرغو چغار کښې د فطرت سرود غږېږي

او چې کله خپل ځان، وجدان او احساس په دغه قدرتي او فطرتي مناظرو کښې ورک کړي نو بيا رو غوندي د دغه خيالي او تصوراتي دنيا نه راوېښ شي او د دغه منظر او ښکلا او ارمان د زړۀ په کور څه داسې دفن کړي ـ

دې احساس کښې دې نغمه کښې په دې غېږه د خندا کښې
وېم په دې کښې په خوبونو د فردوس چې زۀ اودۀ شوے [9, p54]

دغسې يو بل نظم ``د خيال نغمې" کښې ئې هم يو ښکلي او زړۀ راښکونکي خيالي او تصوراتي دنيا جوړه کړې ده ـ د سپوږمئ سيمابي اودۀ رڼا، د وريځو ګډا، د معصومو معصومو

ستورو ترانې او د نګهت دلفرېبه فسانې د بنده خيال او تصور، زړهٔ او وجدان يوه نامعلومه دنيا ته بوځي چې واپس کېدهٔ ترې مهال وي ـ

ساز د خيال مې غلے غلے نغمه بار وي
د سپوږمۍ په سيمابي اودهٔ رڼا کښې
د وريځو د ګډا ښکلي دنيا کښې
د معصومو ستورو شوخو ترانو کښې
د نګهت په دلفرېبه فسانو کښې
ساز د خيال مې غلے غلے نغمه بار وي
ستا پېکر مې د دې ساز هره نغمه شي [p58 ,9]

په سپرلے نومې نظم کښې د سپرلي سره د حورې تشبيه ورکول، که يو خوا منفرده او ځانګړې ده نو بل خوا ته د بهار ناوي د ښائستونو د حياه په خولو کښې ډوبه د شبنمي ټال په قطرو کښې ټالی خوړل د منظر نګارئ اعلیٰ نمونه ده ـ

دا سپرلے دے؟ نهٔ يوه حوره
د ښائست په ټال زنګېږي
په ګلشن کښې هر طرف ته
د شبنم قطرې ځلېږي
پاکه ناوي د بهار ده
د حياه خولو کښې ډوبه

په اخره کښې د سپرلي او بهار دغه پرکېفه منظر له د شاعر د هغه سترو سترګو سره موازنه کوي چې د ازل نه تر دې دمه محض د هغه يو حقيقي حسن، ښکلا او ښائست په لټون کښې پرېشانه او سرګردانه وي ـ

د بهار دا منظرونه
سترې سترګې د شاعر دي
په تلاش د يو ښائست دي

د ازل نه چې ترې پټ دے [10, p36]

په ``تنهائی" نومې نظم کښې چې ئې کومه منظر کشی راښکلې ده نو د بنده زړۀ ورسره بېخې لوئېږي، لکه غلې غلې خوشبوئي، ستړے ستړے بهار، موهومه مستي، د مېخوار په سېل وتنه، نرے نرے ساز غرېدل او بیا په دې پرکېف او زړۀ راښکونکي منظر کښې د چا مستو سترګو له خوب راغلي وي او د خمار او مستی نشه پرې غالبه شوې وي ـ

غلې غلې خوشبوئي ده چار چاپېره
لکه ستړے شان بهار وي غزېدلے
یو موهومه شان مستي وي په فضا کښې
لکه خیال وي د مېخوار په سېل وتلے
لړي لړي ساز غرېږي غلے غلے
لکه خوب وي مستو سترګو له راغلے [10, p46]

"د یو تصویر په لیدو" نظم کښې د محبوب خاموشي ئې داسې انځور کړې لکه چې په یو خوشي صحرا کښې د سپوږمی رڼا اوده وي او یا یو خوب چرته د حالاتو په ازغو کښې راګېر شوے وي ـ

دا خاموشه نازنینه
د سپوږمی رڼا اوده ده
په یو خوشي بیابان کښې
که یو خوب دے راګېر شوے د حالاتو په ازغو کښې [10, p106]

یا په سپوږمی نومي نظم کښې ئې چې کومه منظر کشي کړې ده ـ لکه چې!!!

سپوږمی رڼا خوره ده کائنات کښې چارچاپېره
لکه ستا د مخ بهار دے په ګلزار د ارمانونو
هلته لري په افق کښې کربښې کربښې غبارونه
لکه ورکه لار د مسافرو امېدونه
په نری نری هوا کښې نګهتونه داسې راشي

لکه زړۀ کښې ښکالو وي ستا د ناز د قدمونو [9, p53]

باید چې د دوي دا مذکوره منظر کشي او منظر نګاري او له دې نه پرته چې دوي د خپلې شاعرۍ د د لفظي او معنوي ښکلا د پاره په شعوري توګه کوم نادر تشبيهات، استعارات او او کنايات راوړي دي نو هغه د بل چا په شاعرۍ کښې ډېر کم بلکې د نشت برابر دي ـ په دې اړه د اخونزاده فرمان مسافر دا تجزیه ډېره په ځاے ده چې !!!

ښاغلي يونس خليل د خپلو جذباتو او احساساتو د رنګينو ذکر د تشبيهاتو، استعاراتو او کِنايو په مزي کښې ډېر په شائسته تراکيبو سره داسې د خپل شعر په مضمون کښې پئيلي وي، لکه چې چا قيمتي او بې بها ملغلرې په لړۍ کښې لړۍ کړې وي [p210 ,11]ـ

## 2 جذبات نګاري

د جذبات نګارۍ نه مطلب جذباتي انداز کښې شعر و شاعري کول دي چې د رومانويت يو اهم جز دے ـ د جذبې جمع جذبات دي چې معنیٰ ئې کشش يا مائله کېدۀ دي ـ په عربۍ کښې د دې د پاره ``مشاعر" او په انګريزۍ کښې Emotion توري مستعمل دي ـ شاعر د عام بنده په لحاظ زيات حساس او جذباتي وي بلکې شاعري د سپېڅلو جذباتو او احساساتو د اظهار ذريعه او وسيله ده ـ کله چې خارجي عوامل، انساني شعور او مزاج خپل ځان اړخ ته جذب او مائله کړي او داخلي کېفيات راولړزوي نو په نتيجه کښې ترې جذبات پېدا کېږي ـ بايد جذبات يواځې د غم او خفګان په مواقعو نۀ پېدا کېږي بلکې په خوشحالۍ او مسرت کښې هم مخې ته راځي ـ په شاعرۍ کښې د وعظ او نصيحت په ځاے جذباتي انداز زيات خوښولے شي ولې چې په دې سره اورېدونکي يا لوستونکي جذبات او احساسات هم راوپارېږي او مقصد او مدعا زر حاصله شي ـ جذبات نګاري د انقلابي شاعرۍ خاصه ده او چې څومره په شاعرۍ کښې جذباتي انداز خپل کړے شي نو دومره زيات اثر کوي ـ

مېجر يونس خليل هم د خپلې خاورې او وطن د پاره بې شمېره سختې سُختي، تکليفونه، کړمې او د قېد و بند ورځې شپې تېرې کړې دي ـ هم دغه وجه ده چې هغوي زياتره په خپلې شاعرۍ کښې د زړۀ د اظهار په مد کښې جذباتي انداز خپل کړے دے ـ د هغه فکر انقلابي او نظر سيمابي دے، هغه که د دشمن په کمپ کښې قيدي دے نو د مايوسۍ او نا اميدۍ په ځاے ئې د همت او حوصلې نه کار اخستے دے او د قنوطيت په ځاے ئې د رجائيت لاره خپله کړې ده ـ په داسې موقع د هغه انداز او بيان جارحانه او مزاحمتي دے ـ په دې لړ کښې داور خان داؤد ليکي!!!

لکه چې معلومه ده په داسې نظمونو کښې اکثر حزن و ملال او قنوطيت وي، خو د يونس خليل اکثر دا قسم نظمونه د رجائيت او سرور و انبساط شاهکار دي لکه !!!

د تیارو په زړه چې څه دي
زما شپه ترې بې پرواه ده
ستا د حسن نور وربرې
زما لارو کښې رڼا ده [12, p141]

د دوي اکثر په داسې نظمونو، لکه پاکستان، خپلې ناوي ته کچه یم، د وطن عظمت، وطن ته، شهید ته، د قېد په ورځو شپو کښې، تحفه، د زولنو اواز، د زندان په احاطه کښې، معراج د عظمتونو او یو شمېر نورو نظمونو کښې جذباتي انداز خپل کړے دے۔ لکه ``معراج د عظمتونو" نومې نظم کښې چې وائي!!!

په سینو کښې د زخمونو لا زواله بهارونه
د وطن په وچو ډاګو کښې په هسې شان خورېږي
لکه ناوې پورته کړي په نکریزو سرۀ لاسونه

او وړپسې د ځوانانو په بې ننګۍ، بې مروتي او بې غمۍ د خفګان اظهار کوي نو ورسره د امید او رجائیت لمن کلکه رانیسي او دغه په قېد و بند کښې پراته زلمي د روښانه سباون او د خپلواکۍ او ازادۍ زېرے ګڼي !!!

په ظاهره اودۀ شوي د ابد په خوب زلمي دي
د پردي وطن په خاورو کښې پټ شوي دا غمي دي
مګر دا چې د افق نه راختل د هغه نمر دي
چې پیغام د ښېرازۍ دے نو بهار د ازادۍ دے
دغه مرګ په حقیقت کښې د وطن هغه ژوندون دے
چې وقار پکښې زیاتېږي پکښې سترګې چې هسکېږي
د قومونو په اسمان کښې دا معراج د عظمتونو [10, p65]

مېجر یونس خلیل یو لوستے او باشعوره دے او د خپلې خاورې او تاریخ نه باخبره دے۔ هغه د خپل قام او اولس غم او درد محسوس کړے دے او بیا ئې دغه درد و غم له د لفظونو ښکلا ورکړې ده۔ هغه سره د خپل قام او اولس د غفلت د خوب نه د راېبدارولو محض یوه لاره وه او هغه د دې لارې د تعین د پاره جذباتي او مزاحمتي انداز خپل کړے دے۔ د دوي په شاعرۍ کښې داسې نورې هم بلها نمونې شته دے ولې د طوالت له وجې ترې ډډه کولے شي، او فقط

د ډاکټر اقبال نسیم په دې وړوکي حواله اکتفا کولے شي ـ

> دغه تېرو ورځو شپو یاد، د شاعر په مزاج کښې جلالي کېفیت پېدا کړے دے او په بعضې ځایونو کښې ئې کلام جارحانه او مزاحمتي رنګ هم اخستے دے کومه چې یوه فطرتي خبره ده [1, p281]

# 3 تخلیقي تخیل

مېجر یونس خلیل د تخلیقي او اختراعي ذهنیت او د لوړفکر او تخیل خاوند دے، د خپل فکر و فن سره ئې پوره پوره انصاف کړے دے او د چا د تقلیدی ښکار شوے نۀ دے ـ دوي په شاعرۍ کښې ځان ته پخپله مخصوص لاره وضع کړې ده، هم دغه وجه ده چې د دوي انداز او اسلوب ځانګړے او منفرد دے ـ دوي که یو خوا په هر قدم نوے خیال او فکر راوړے دے نو ورسره ئې د لفظونو بندش، جوړښت او ترتیب هم په هنرمندۍ او استکارۍ سره کړے دے ـ نوي نوي تشبیهات، استعارات او کنایو نه علاوه ئې نوي نوي طرزونه، ترکیبات او خصوصاً مجردي او غېر مادي څیزونو ته تجسیم ورکول د دوي ځانګړتیا ده ـ لکه د ``انتظار لمن"، د خوب سېورے، د ګمانونو حصار، د سپرلي د خوب جوتې، د حالاتو ازغي، ستړې سترګې، د حیا خولې، د ورځو شپو زنه، د یادونو لمن، د مسکیتوب صدقه، د نظر زخمونه، د ګلونو زولنې، د څوانۍ ائېنه، د سپوږمۍ رڼا اودۀ کېدۀ او دغسې یو شمېر نوي او ښکلي ترکیبونه او طرزونه جوړول د دوي د اختراعي ذهن ښکلا ده ـ په دې لړ کښې ډاکټر اقبال نسیم لیکي !!!

> د ښاغلي یونس خلیل د کلام یوه ښکاره خوبي د الفاظو حسنِ انتخاب، ترتیب او تراکیب دے ـ هغه په خپل کلام کښې ډېر معنیٰ خېز الفاظ او ترکیبونه استعمال کړي دي ـ د الفاظو بعضې ترکیبونه ئې دومره باریک دي چې د خیال لمن د بنده د عقل په لاس نۀ ورځي او لکه د یو رېښمین رخت د لاسونو نه ښوئېږي ـ[1, p296]

په دې کښې هېڅ شک نشته چې ښکلي ښکلي لفظونه، ترکیبونه او لفظي صنعتونه راوړل د شعر و شاعرۍ ارزښت او افادیت یو په دوه سېوا کوي ـ ولې د دې سره سره فکري بلوغتیا او تخلیقي تخیل هم د اعلیٰ شعر و شاعرۍ خاصه ده ـ په دې لړ کښې که مېجر یونس خلیل د لفظونو جوړښت، ترتیب او تراکیبو جوړولو ته اهمیت ورکړے دے نو ورسره ئې د لوړ فکر او تخلیقي تخیل نه هم سترګې نه دي پټې کړې ـ هغه نوي فکرونه او مضامین په نوي انداز او پېرایه کښې د راوړلو کوشش کړے دے ـ هغه د خپلې پښتنې مینې او حسن پرست تخلیقي تخیل په زور ځان له د خوبونو، رنګونه او د سرور او مستۍ یوه پر کېف دنیا جوړه کړې ده، په کومه کښې چې هغه په حقیقي او ابدي خوب او اودۀ کېدۀ غواړي ـ

د جسمونو په اوده اوده سپوږمۍ کښې
د ژوندون هره لمحه یو مېخانه ده
د مستۍ او د خمار له سازه پورته
د بېخوده ارمانونو ترانه ده
د طلب او د کرم دغه لمحې ته
ساه نیولې شان ولاړه زمانه ده [10, p54]

ولې د هغه سوچ او فکر محض د ذات د دائرې پورې محدود نهٔ دے بلکې د هغه پېغام افاقي او عالمګیر دے، او د کلهم انسانیت درد و غم ئې په خپله سینه کښې ځاے کړے دے، هم په دې سوب د هغه تخیل تخلیقي دے او سوچ او فکر ئې افاقي دے۔

چې تخریب د ژوند دستور شي چې انصاف د ظلم دار شي
شړنګ د ننګ د زولنو شم، هر یو داغ مې لاله زار شي
شوګیرو کښې هغه خوب شم چې بختونه رابېدار کړي
د سحر د نمر لمنې چې ډیوې د انتظار شي
هر کلے د مظلومانو لاس نیوے د حق پرستو
هم پښتو ده هم سیالي ده قرباني زما د مرستو [13, p67]

مېجر یو نس خلیل د لوړ تخیل او افاقي فکر خاوند دے، فکري محاسن او فني پختګي د دوي د شعر و شاعرۍ یوه اهمه برخه ده۔ د دوي شاعري که د مقدار او حجم په حواله لږه او کمه ده ولې د معیار په حوالې سره په هر لحاظ پوره او جامع ده۔

## 4 علامتي انداز

علامت په بنیادي توګه د انګریزي د Symbol ترجمه ده او Symbol د یوناني ژبې د Symboline نه ماخذ دے چې لغوي معنیٰ ئې ``دوه شیزونه یو شان کېښودل" دي۔ ولې په عربۍ، اردو او پښتو کښې ئې لغوي معنیٰ نخښه، داغ، اشاره او کنایه ده او په اصطلاح کښې ترې هغه سپېځلي خیالات، افکار، احساسات او جذبات مقصود او مطلوب دي چې په مخصوص اشاراتي او کنایتي انداز کښې مخې ته راوړے شي۔ لکه څنګه چې په حساب کتاب کښې د جمع، منفي، ضرب او تقسیم د پاره اهل علم مخصوص علامتونه او نخښې نښانې وضع کړي دي هم دغسې په ادبي دنیا کښې شاعرانو او ادیبانو هم د مختلفو نظریاتو، افکارو، احساساتو او جذباتو د

فروغ او خورولو د پاره مخصوص علامتونه وضع کړي دي ـ د علامت د مزید تشریح په لړ ډاکټر نصیب الله سیماب لیکي!!!

> یو تورے د حقیقي معنیٰ په ځاے په نورو معنو کښې پکار راوستل علامت دے ـ ـ ـ ځینې توري داسې وي چې د هغه حقیقي معنیٰ بله وي یعني کومه معنیٰ چې د هغه توري د پاره لغت ټاکلي وي په هغه معنیٰ نه شي استعمال، بلکې په مجازي معنیٰ استعمال شي دې ته علامت وئیلے شي ـ لکه شمع د علم، تله د انصاف او پروانه د عشق علامت دے ـ[14, 262-p261]

شاعري نازک او لطیف فن دے او د علامتونو، تشبیهاتو، استعاراتو او کنایو ژبه ده، څومره چې هم په دې فن کښې دغه مذکوره توکو نه کار واخستے شي نو د زړۀ باعث اثر جوړېږي ـ مېجر یونس خلیل هم د خپل فکر او خیال د ابلاغ او ترسیل د پاره علامتي انداز خپل کړے دے ـ هغه د ترخې نه ترخه خبره هم په داسې رمز، ایمائیت او اشاریت کښې کړې ده چې خوږې نه هم خوږه شوې ده ـ ولې د هغوي په ځینې علامتونو پوهېدل به د هغوي د سترې ژوند د مطالعې نه بغېر ناشوني وي ـ د هغوي ځینې علامتي نظمونه پروفېسر داور خان داؤد په خپل کتاب ``څېړنه او کره کتنه" کښې تجزیه کړي دي، چې پکښې د یو تصویر په لیدو، مولانا عبدالقادر، هغه سترګې، د وطن عظمت، حوصله هم د انسان ده، هسې نه چې بهارونه او ``زړۀ" شامل دي ـ هغوي د وطن عظمت نومې نظم په تجزیه کښې څه داسې رقمطراز دے ـ

> په زېر تبصره نظم کښې ئې جدید علامتي نظام په ذریعه د ژوند حقیقتونه او د کائنات رنګونه په ډېره ښۀ طریقه هَم اهنګ کړي دي ـ څکه چې سپین سحر، نوبهار، او خوشبوئې تجریدي علامتونه دي چې د انسان خوشحالۍ، سوکالۍ او لویۍ سره تعلق لري ـ[12, p135]

دلته کښې د داور خان داؤد د نورو علامتي نظمونو د تجزیې نه راتېرېږو او د یو څو نورو علامتي شعرونو او نظمونه یوه سر سري جائزه اخستے شي ـ سائبان د رحمتونو نومې نظم کښې ئې سائبان د رحمتونو د محمد (ص) د ذات او هستۍ د پاره علامت او استعاره راوړې ده ـ او د دوي (ص) راتګ او ظهور ئې د ټول کائنات د تکمیل سبب ګرځولے دے ـ لکه چې وائي!!!

کائنات همه نیمګړے بس لمن د انتظار وه
ورځې شپې وې سترګې سترګې یو بېتابه انتظار کښې

او بیا څو بندونه وړاندې لیکي !!!

او په دې کښې د خداے فخر چې احسان په زندګۍ دے
د مخلوق په سرو غرمو شو سائبان د رحمتونو

او اخري بند ئې څه داسې ختم کړے دے چې!!!

چې ازل پر بخت اور دے چې ابد پرې مبارک دے
دا هستي د محمد (ص) ده چې تکمیل د هر کمال دے [10, p2]

په ``نمرود" نومې نظم کښې ئې نمرود د وخت بې رحمه، عاصب او زور د پاره علامت او استعاره ګرځولې ده او د ځان او د مظلومیت د پاره ئې د ``حُسېن" علامت راوړے دے۔ حالانکې د نمرود او حُسېن د یو بل سره د زمانې په لحاظ څه نسبت او تړون نشته۔ ولې دوي دغه دواړه علامتونه په داسې انداز کښې یو ځاے راوړي دي چې بنده ته دغه تشنګې نۀ محسوسوي۔

څوک نمرود په دې غاوره
چې حالات ئې سرې لمبې کړي
ارادې د زندګۍ به
اوس خاموشه هدیرې کړي

او بیا اخره کښې وائي چې!!!

چې عَلم ئې د حُسېن وي
چې نظر ئې په حنېن وي
نو لمبې ورته ګلزار شي
او غرور چې څوک نمرود کړي
تیښتي سترګې شرمسار شي [10, p94-95]

دغسې ئې ځاے په ځاے د ځینې نظمونو او غزلو په یو نیم شعر کښې هم په رمز او ایمائیت کښې خبره کړې ده۔ لکه ``سرې سترګې" د خمار او مستۍ علامت دے خو ورسره د قهر او غصې د پاره هم راوړے شي۔ ولې دلته د قهر او غصې په مد کښې په علامتي انداز کښې څه داسې راوړې شوې دي۔

بیا به غوښتے چا شفق د محبت وي

دا چې سترګې دحالاتو تکې سرې شوې [10, p29]

د ``سپین او تور" علامت د بې شمېره مقاصدو او مطالبو د پاره مستعمل دے ۔ که یو خوا ترې د ورځې او شپې مراد اخستے شي نو بل خوا په نن دور کښې ``پښتون او پنجابي" ته هم منسوبولے شي، ولې مېجر یونس خلیل دغه علامت د ``حق او باطل" د پاره په ډېره ښکلې پېرایه کښې راوړے دے ۔

مسئلې د تورو سپینو دې حل نۀ کړي
د یونس په ورځو شپو کښې اضطرابه [10, p31]

"تش لاس" که د غربت و افلاس او د غریبۍ او بې وسۍ د پاره استعاره او علامت دے نو ``لاس په سر کېدل" د هر څه نه د ځان د بې غمه کولو او خلاصولو علامت په توګه پکارولے شي ۔ دلته کښې دغه دواړه علامات یو شعر کښې څه په دې ډول راوړے شوے دے ۔

تشه لاسه اوس خو له هر څه لاس په سر شه
چې روزګار د زمانې په زیات و کم دے [10, p32]

زلفې عموماً د ښکلا او ښائست علامت دے ولې ډاکټر راج ولي شاه خټک ئې د ټال او د دام په دواړو معنو کښې اخلي ۔ لکه چې وائي!!!

دا د عدل کوم انداز دے لړ مې پوه کړه
چې دې زلفې چاته ټال او چا ته دام شي

دغسې د رنګونو او خوبونو شاعر مېجر یونس خلیل ئې هم د بې مهرۍ او بې وفائۍ په لړ کښې د علامت په توګه پکاروي ۔ لکه چې وائي!!!

بې مهري د چا د زلفو علامت دے
عالمونه په څه نور څه پرېشان شو [10, p59]

په لنډه توګه د مېجر یونس خلیل په شاعرۍ کښې علامتونه او استعارې په وافر مقدار کښې موجود دي ۔ دوي د خپل فن او فکر د ابلاغ د پاره د رمز، ایمائیت او اشاریت انداز خپل کړے دے، هم دغه وجه ده چې د دوي شاعرۍ ته پرې دائمي تازګي، ابدیت او مسرت بخښلے شوے دے ۔

# 5 انفراديت پسندي

انفراديت پسندي هم د رومانويت يوه اهم جز دے کوم چې د رومانوي شاعرۍ خاصه او ځانګړتيا ده ـ په ادب دنيا کښې د انفراديت نه مطلب او مقصد انفرادي خوبۍ او ځانګرتياوي انځورګري ده، کومه چې د هر فرد د بل نه بيله او جدا جدا وي ـ په ادب او په تخليقي اثارو کښې د انفراديت عناصر او پيژندګلو په اسلوب، اهنګ، موضوع، طرز احساس، زاويه نګاه او په قوتِ بيان سره ممکن ده ـ په دې لړ کښې مېجر يونس خليل د خپل ځانګړي فکري او فني مکتبِ فکر او سبک خاوند دے ـ هغه د منفردې او ځانګړې لهجې، فکر، انداز، اسبلوب، اهنګ او طرز احساس شاعر دے ـ دوي خو نۀ د بل چا تقليد کړے دے او نۀ د بل چا په لاره تلے دے، بلکې ځان ته ئې پخپله يوه لاره او اسلوب ټاکلے دے او د وړومبي پړاؤ نه تر د منزل پورې پرې ښۀ ډاډه سفر کړے دے ـ اګر چې په دې لاره کښې دوي ته د حالاتو ازغي او د وختونو بې مهري په هرقدم مخې ته راغلې ده، ولې دوي کله هم همت او حوصله نۀ ده بائيللې ـ په دې لړ کښې ډاکټر اقبال نسيم ليکي!!!

> مېجر يونس خليل د پښتو شاعرۍ د موجوده دور يو نمائنده شاعر دے، هغه يو مخصوص انداز لري او مخصوصه لب و لهجه هم ـ د فن سره خلوص، په ژبه عبور، د جذبې صداقت او شفقي تخيل د هغه کلام ته منفرد رنګ ورکړے دے. [1, p298]
> مېجر يونس خليل د يو خاص طرز فکر خاوند دے او په موجوده دور کښې بل داسې شاعر نشته، چې په رومان نګارۍ، تخيل اميزي او محاکات نګارۍ کښې د هغه مد مقابل شي ـ هغه د شعر و سخن په مرغزارونو کښې تنها سفر کوي ـ د چا هَم سفر جوړيدل نۀ غواړي، شايد چې څوک هم د هغه سره د هَم سفر جوړېدو توان نۀ لري ـ[1, p305]

د هغوي د منفردې لهجې، انداز او اسلوب نه دلته يو څو شعرونه د نمونې په توګه وړاندې کولے شي ـ

ستغي سپورې لکه څوکې د ازغو دي
بې مهري ده ګبر چاپيره د حالاتو
زندګي په هر قدم د زهرو ګوټ ده
ما خوږه کړه ستا د مينې په نباتو [10, p19]

او يا دا چې !!!

مسافر د زړۀ په لارو
ارمانونه اميدونه

نزدیکت نه خلق تبنتي
فهم لاس دے په ګرېوان کښې
مینه کور د اځترام ده
بیا یواځې یک تنها دے
ماښامے د بیابان دے
د وصال په نوم بېلتون دے
عقل سپورے د جنون دے
او په لاره کښې بازار دے [13, p115]

غلي ستوري، فضا غلي، هوا غلې
سپوږمۍ تته خاموشي ده بې قراره
یو خِلا ده په سینه د کائنات کښې
تۀ چې نۀ ئې نو خدائي ده بې قراره [10, p25]

مېجر یونس خلیل د جدا سبک او اسلوب شاعر دے ـ هغه د نوؤ نوؤ تشبهاتو، استعاراتو، کنایو او علامتي انداز او فکر نه پرته د تخلیقي تخیل او نامیاتي فطرت پرست دے ـ هغه په خپلې خیالي او تصوراتي دنیا کښې د پُر کېفه تنهائۍ او موهومه خاموشۍ په غېږه کښې د سپوږمۍ رڼا اودۀ کوي ـ هم دغه ځانګړې خصوصیات دي چې د نورو شاعرانو نه انفرادیت لري ـ

# 6 رومان نګاري

د رومان او د رومانس ذکر د دې مقالې په وړومبي سر کښې په تفصیل سره شوے دے ـ ولې دلته د رومان نه محض د حُسن او عشق مراد او مقصد دے ـ د مېجر یونس خلیل په شاعرۍ کښې هم لکه د نورو رومانوي شاعرانو رومان پرستي په څپو ده ـ هغه په زړۀ کښې د مینې او حُسن ډک دریاب لري، ولې دلته هم د هغه انداز او لب و لهجه منفرده او ځانګړې ده ـ هغه د حُسن مجازي نه زیات په حُسن حقیقي مدهوشه دے، کوم ته چې د رومانویت په ژبه کښې ``رومانوي تصوف" وئیلے شي ـ هغه د فطرت شراب د کائناتو په جام کښې د یو داسې ساقي نه د څښلو منتظر، تمنائي او ارزو مند دے، چې د چا د حُسن فقط یوې جلوۀ ته کوه طور غونډي غر هم نۀ شي ودرېدے ـ لکه چې پخپله د دې اقرار څه داسې کوي ـ

ګويائي ده انتظار کښې د ازل نه
چې قابله ستا د وصف د بيان شي
مګر ژبه چې محدوده د مکان ده
تذکره به په دې څه د لا مکان شي [10, p1]

د دوي د رومانوي فکر او سوچ په اړه ډاکټر اقبال نسيم ليکي!!!

لکه څنګه چې وئيلي شوي دي چې ښاغلي يونس خليل ته الله تعالىٰ حُسن بين نظر او حُسن پرور تخيل ورکړے دے نو هغه ځکه په رومان نګارۍ کښې په خپله خپل مثال دے ـ نو هغه خاص طور سره د هغه بعضې قطعې د ښاپيرو د وطن ټکړې ښکاري ـ د مېجر صاحب د روماني کلام په لوستو جذبات تسکين مومي ځکه چې څه وخت د پاره د بنده تصورات د مادي سود و زيان، ګنده ماحول او د سماج د ناکړدو نه لرې او ډېر لرې يو داسې دنيا ته ورسوي چې فقط حُسن و سرور رقصونه کوي پاک ماحول وي، د رنګونو پړک پړوک وي او د خوشبويانو په وږمو ماحول مخمور وي ـ[1, p290]

مېجر يونس خليل د خپلې مينې او ابدي حُسن باندې دومره ډاډه او ملا تړې چې د هر قسم تورو تيارو نه بې پروا دے، او دغه حُسن او انورات د خپلې لارې د پاره ډيوه او مشال ګڼي ـ

د تيرو په زړهٔ چې څه دي
زما شپه ترې بې پروا ده
ستا د حُسن نور وربړې
زما لارو کښې رڼا ده [10, p92]

په يادونو مې خور شوے ستا جمال دے
که رنګونه له ګلونو هَم اغوش دي [10, p55]

او يا دغسې نور چې !!!

نامعلومه شانے ساز راته غربېري
او جلوې رانه چاپېره د جانان دي
د سيند غاړه ده سپوږمۍ ده نرے باد دے

په فضا کښې رقص شروع کړو مست خوبونو
ستا خوږې خوږې وړې وړې خبرې
سرۀ شراب دي ټکي ټکي راڅڅېږي [1, p292]

الغرض مېجر یونس خلیل د شلمې صدۍ د جدید دور په جدید رومانوي شاعرانو کښې د منفردې لهجې او ځانګړي انداز او اسلوب شاعر دے ـ هغه خو نۀ د چاتقلید کړے دے او نۀ د چا په لاره تلے دے، بلکې ځان له ئې جدا یوه نوې لاره وضع کړې ده ـ هغه د تنهائۍ او خاموشۍ په راز پوهه دے ځکه خو پکښې ابدي خوشحاله دے، ولې چې په تنهائۍ کښې هغه ځان له د خوبونو او رنګونو دنیا جوړوي نو په محبت کښې خو خاموشي خبرې دي ـ د هغه ټوله شاعري د حُسن او عشق نه عبارت ده، او د خپل تخلیقي تخیل، نامیاتي فطرت او علامتي انداز په مرسته یو ښکلي او حسنیه د رنګونو او خوبونو دنیا جووړوي، د کومې اډانه چې په مستۍ، سرور، خوشبوئۍ او د سپوږمۍ په رڼا ولاړه وي ـ د هغه شاعرۍ د یو شمېر موضوعاتو نه برجته ده چې پکښې اصلاحي، اخلاقي، مذهبي، عشقي، تصوفي او رومانوي شامل دي ـ ولې کوم څه چې د هغه شاعري ته انفرادیت او ځانګړتیا بخښلې ده نو هغه رومانویت دے، چې د هغې د اجزاؤ په لړ کښې مفصله او مدللَ جائزه واخستې شوه ـ د رومانویت ځینې نور اهم توکي هم شته دے چې پکښې رومانوي تصوف، وطن پرستي، حُسن پرستي او موسیقیت او عنائیت شامل دي ـ ولې د طوالت له وجې ترې ډډه کولے شي ـ

# Bibliography


[1] Iqbal Naseem, Durdani, 2nd edition, Haram Printers, Muhala Jangi, Peshawar, 2000

[2] Muhammad Hasan, Urdu Adab main Romani Tahreek, 2nd edition, New Dehli, 1955

[3] Muhammad Khan Ashraf, Urdu Adab ka Romanvi Dabistan, 2nd Edition, Tayyab Printers, 1996

[4] Emile Legouis, Louis Cazamian, Helen Douglas-Irvine, A History of English Literature, MacMillan, 1929

[5] Fazal Meer Khattak, Fazilyat Muhammad Rasool, Pashto Academy, University of Peshawar, 1999

[6] Abdullah Jan Abid, Pashto Zuban wa Adab ki Mukhtasar Tarikh, University Publishers, 2006

[7] Abid Ali Abid, Usul-i Intiqad-i Adabiyat, Sang-e-Meel Publications, 1997

[8] Hanif Khalil, Pakhto Navee Shairee, University Series

[9] Younas Khalil, Lala Zaar, Idara Ishaat Sarhad, Qisa Khwani Peshawar, Feb 1946

[10] Younas Khalil, Saski, 2nd Edition, Metro Printers, Lahore, April 1991

[11] Akhunzada Farman Musafar, Pakhto Adab Zalanda Stori, 1st Edition, Hamdia Press, Peshawar, August 1984

[12] Dawood Dawer Khan, Sirrana aw Kara Katana, 1st Edition, Milat Printers, Lahore, Jan 2003

[13] Younas Khalil, Pas la Sasko Lala Zaar, 1st Edition, MA Haram Printers, Peshawar, 2002

[14] Naseeb Ullah Seemab, Da Kara Katani Istilahaat, Pashto Academy, Quetta, Balochistan, 2019